Kandahar. Kabul
Vol.3, No.1, Hamal 1341
(March 1962)

۱۳۴۱

کندهار



په کندهار کی داعلیحضرت احمدشاه بابا کنبته چی زموږ د معماری یوه ستره او بنکلی نمونه ده

یوه ادبي پارچه

زما جهان

دپسرلی په موسم کی دګلونو په باغچو او دبهاندو ولو له څنګه چی کائناتو نوی رنګ موندلی، او د خوشحالۍ پیالې لبریزه وې، مځکی شین کمیس اغوستی او غوړېدلی شکوفه درسا قامتوونو دسرتاج او دقدرت دزیارایستلو ښایسته محصول دنظربازۍ دعوت ورکوی هلته په ما پسې ځان مه ستړی کوه زه نه موندل کېږم.

* * * *

د نیسان د اوریځو په باثمره غېږ کی چی هرڅاڅکی ئې یوه ځلېدونکی مرغلره په وجود راولی، نباتات او د مځکی تنکی ځامن لکه وچموری ماشومان په خپلو سرو باړخوګانو او ناز کو شنډو سره ددې مهربانی مورڅخه دباران اورولو هیله او تمنا کوی هلته زه نه یم.

* * * *

دسهار په سپېدو کی هغه وخت چی دنور او تیارې جګړه خلاصه او مځکی والوته دظلمت ماته اعلانېږی، هلته چی بادسبا په خپلو پستو وږمو سره موالید د درانه خو به راویښوی او د طبیعت د لوڼو پېکی دیوې پخې مشاطې په شان ور ږمونځوی هلته په ما پسې ځان مه زهیروه زه نه یم.

* * * *

دسپوږمۍ په شپو کی چی پردېسان دآسمان دناوی په ننداره بـــوخت دې خپلی زرینی وړانګې د مځکی پر غولی داسی نثار کړی وی چی حتی دمظلومانو او خوارانو کورونه هم وړانګن اوروښانه وی په داسی شپو کی چی مینان د وصال په میو مست او د رازؤ نیاز هنګامې تودې وی هلته ما مه پلټه.

* * *

هلته چی د ښکلو د پـاولیو شرنګهار دمړو زړونه په نڅا راولی او د بۍ مخو پېغلو خنداګانی د زهرې غـوږونه

[نور دپشتی په دریم مخ کی]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

ددې کښې مضامین

د کندهار دریم ... په [۱] مخ کی
مطالعه او تفکر « [۲] « «
د کلتور آغاز « [۳] « «
د اشرف الوزراء ... « [٦] « «
د علم النفس ... « [۹] « «
ځینی لیکوال ... « [۱۳] « «
په کندهار کی .. « [۱٤] « «
«اوستا» « [۱۵] « «
تطبیقی تاریخ په [۱٦] مخ کی
پښتو او دیوه « [۱۷] « «
د حمید پر غزل ... « [۱۸] « «
زه هم ځلمی یم « [۲۰] « «
ستا دپاره « [۲۲] « «
مثنوی ساقی نامه « [۲۳] « «
شال او بولان « [۲۵] « «
کریستف کلمب « [۲۷] « «
مرحوم محمد عثمان « [۲۹] « «

کندهار: د نوی کال د راتلو له کبله
خپل معظم ټولواک او ټوله ګران
ولس ته په خپلوار د زړه له کومې
تبریکات وړاندې کوي.

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [حمل] میاشت
د ۱۳۸۱ قمري کال د [ذیقعده] «
د ۱۹۶۲ میلادي کال د [اپریل] «
د دریم کال لومړی ګڼه
پرله پسې ګڼه [۲۵]

کالنی «بیه»

په کندهار کښې [۲۸] افغانۍ
په دننه مملکت کښې [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کې یو ډالر

مسئول چلوونکی
ا، م «کرزی»
اداره دشهیدانو واټ
[ددولتی مطبعې څنګ ته]

کندهـــار

میاشتنی خپرونه
ادبـی . تاریخی
اجتماعی . علمی

د کندهار دریم نشریاتی کال

د کندهار مجلې دوه نشریاتی کلونه بشپړ کړه او ددې ګڼې د خپرېدو سره ئې سم په دریم کال پیل کېږی .

او مړی داخبره د یادولو وړ ګڼم چی ووایم: مجلې، اخبارونه، جرائد او داسی نوری خپرونی د مدنیت په انکشاف د علم او معارف په تعمیم او د فکرونو د روښانولو په لار کی ستر خدمت کولای شی .

مطبوعات ن ورځ د یوې ټولنی روح روان بلل کېږی ، حقوقی پوهان ئې د دولت څلرم قدرت معرفی کوی او د بشری ولسونو د فکرونو او باطنی خیالاتو د ښکاره کولو هنداره او د ملی ارادو ممثل ئې ګڼی، د نړۍ د اوسنیو هیوادو په لړ کی په هر مملکت کی چی مطبوعاتی قدرت ډېر او د خپرونو شمېر په زیاته اندازه وی هغومره هغه مملکت د سیاست، اقتصاد معارف او اجتماعی سمون له پلوه بریالی وی .

زموږ په ګران هیواد کی چی دا دوه سوه کاله د ځینو سیاسی علتونو له اثره څرنګه چی ښائیده پداسی چارو کی پر مختګ نه دی سوې، کله چی مو هغه علتونه د سیاسی فضا څخه ورك سوی دی، همدا دی چی سمدلاسه مو نیمګړتیاوی یو په بله پسې مخ پر پوره کېدودی چی پدې ارتقائی سیر کی مو د خپرونو او مطبوعاتو زیاتوب هم ورځ په ورځ مخ پر لوړ روان دی د کندهار مجله چی عرض اندام ئې تقریباً لا تازه بللای سو ددغه ارتقائی سیر مولود دی او په خپل تېر دوه کلنی ژوند کی تر هغه ځایه چی وس او قدرت ملګرتیا کړېده ولس او خپلو ښاغلو ویونکو ته ئې د خپل مسلك او هدف سره سم موضوعات او مضامین تهیه کړی او خپاره کړی دی او نور دا هم په نظر کی دی چی د لوازمو او وسائلو د تهیې او د ښاغلو لیکوالو د مرستی په شرط زموږ د ادب، کلتور تاریخ او داسی نورو برخو په معرفی او تهیه سره مجله ښایسته او برجسته بلکه په یوه کامل توفیق سره ئې صحافت رنګینی او ټوله خپرونی په زړه پوری وساتو خو پدې زمینه کی بیا هم دا خبره ضروری ده هغه دا چی ښاغلی ملګری او لیکوال مو یوازی پرې نږدی او لکه تراوسه چی ځینو، نه یو هېر کړی وروسته مو هم یاد کی او دا خپله مجله لکه څرنګه چی ښائی وپالی .

په پای کی دا لازمه بولم چی د مطبوعاتو د مستقل ریاست او

مطالعه او تفکر

څنګه چې ډېره زیاته مطالعه فکر وسعت اوودی ته نه پرېږدی ډېر لیکل او ډېر لوستل هم د حقایقو د معرفت مخه نیسی.

د دنیا ډېره لویه کتابخانه چې بې نظمه او بې ترتیبه وی هغه ارزښت نه لری لکه یوه کوچنۍ منظمه کتابخانه چې ئې لری.

همدغه راز ډېره زیاته پوهه چې په ذهن او دماغ کې ښه هضم شوی نه وی له هغو لږو معلوماتو ته لږ قیمت لری چې په جزئیاتو کې ئې ډېر غور او دقت نه وی شوی.

په حقایقو باندی سړی هغه وخت پوهېدلی شی چې د علیت په قانون پوه شی او جزئیاتو کې مطالعه ولری. څنګه چې انسان مطالعې ته ضرورت لری تفکر ته ئې هم لری مطالعه او تفکر د انسان په ذهن کې دوه متضاد تاثیرونه لری چې که یو زیات شی هغه بل کمېږی. مطالعه د سړی ذهن د هغو افکارو او عقایدو له تاثیر لاندی راولی چې ممکنه ده د انسان له ذاتی احتیاجاتو سره مخالفت ولری. آزاد تفکر یعنی د هغه طبیعی سیر او حرکت تعقیب چې محیط او ضروری مسائل ئې د انسان په ذهن کې پیدا کوی د مطالعې په شان څه خاص شی په ذهن کې موجود نه وی بلکه د فکر کولو تومنه ذهن ته سپاری همدغه سبب دی چې ډېره زیاته مطالعه د شخصی فکر د پرورش مخه نیسی نو سړی څه قدر سطحی او ناپوه کوی علما او پوهان هماغه کسان دی چې ډېر کتابونه ئې لوستی دی مګر نوابغ او د فکر خاوندان چې د انسانی مدنیت لارښودونکی دی او د بشریت قافله د ترقۍ خوانه بیائی، هغه کسان دی چې د جهان په کتاب کې ئې غور کړی دی او د نورو په خبرو کې ئې خپل فکر نه دی بایللی.

ټولو همکارانو له هغو مرستو څخه چې تراوسه ئې زموږ سره کړی او زموږ هیله ئې تر ممکنه حده را تر سره کړې او ددې مجلې په چلولو کې ئې وس نه دی سپمولی د زړه له کومې شکر ګذاری وکړم. په درناوی.

ا؛ م؛ کرزی

له مینز وی فرام کیف توسکای سکریپر څخه
مترجم عبدالله [لالی] د ادبیاتو محصل

د کلتور آغاز

[۲]

[د تیری ګڼې پاته برخه]

جنوب شرقی اسیا یوه توده اومرطوبه سیمه ده چی مېوی او بېخ-
اروڼکی نباتات ډېر اوپر پمانه لری اپکن جنوب غربی اسیا یوه
وچه سیمه ده اووګری ئې پخوا دمختلفو وښو او نباتاتو په نخمونو
چلاو کاوه .

په دغه ځای کی دحبوباتو د کرلو طریقه چی زموږ د ننني کرهنی
اساس او بنسټ دی، شروع شوه .

غنم، اوربشی، جواری، توری
اوربشی او نور ؛ هغه حبوبات
دی چی له خودرو به نباتاتو
څخه پدغه لته او سیمه کی په
لاس راغلی دی . ددې حبوباتو
کرهنه بیا وهندنه چی یو تود
اومرطوب اقلیم لری هم خپره
شوه اپکن به هند کی یودول
غله یعنی وریجی چی به باطلاقی
ځمکو کی شنې کیږی هم
کرلی کېدلی اودوګرو دغذا
یوه مهمه برخه ئې تشکیلوله
د حبوباتو د کرهنی سره سم د
څارویو اهلی کول هم منځ ته
راغی خو به یقینی صورت هیڅوك
نه پوهیږی چی کرهنه دمخه
منځ ته راغلی او که دڅارویو
اهلی کول . دالکه دچرګی او
هګۍ مسئله ده چی کومه یوه
به دمخه پیداشوی وی .

هغه وخت چی انسانان دحیوا-
ناتو په ښکار بسې سرګردانه
ګرځېدل، دوی حبوبات نشوای
کرلای اوژوی ئې هم نشوای
روزلای ځکه چی د ځان او
ژوو اپاره ئې دخوراکې کافی
ذخیره نه درلوده.

انسانانو ډېر وروسته د ژوو د
اهلی کولو فکر پیدا کړ او
څاروی ئې د خپلی کورنۍ
غړی وګرځول . هروخت چی
به ئې ضرورت ورته پېښ شو
حلال به ئې کړل او وروروو
به ئې خوړل .

دژوو اهلی کول دانسان دژوند
ډول اورنګ بدل کړ .

او مړی حیوان چی انسان له
هغه سره ددوستۍ علاقه تأسیسه
کړه سپی ؤ .

سپی نه یوازې دانسان ډېرښه
ملګری بلکه ډېر پخوانی یار
دی . انسانانو دمخه نردې چی
د کرهنی لپاره او یا د ژوو د
اهلی کولو لپاره کوښښ وکړی
دسپیانو سره ئې ددوستۍ مزې
او تار اچولی ؤ . ددغه اوږده
تاریخی متقابل احترام له کبله
دی چی انسانانو هیڅکله وسپی
نه بې دملګری په سترګه په
بل څه ندی کتلی .

انسانانو او سپیانو به پخوا
وختو کی دخپلی ګډی ګټی په
سبب یو ځای ژوند تېراوه .
سپیان به ابتدا کی د انسانانو
په کوډلو کی اوسېدل او یا به
ددوی سره و ښکار ته تلل .
انسانانو چی به کله ښکار
وکړ ښکار ځینی برخی به ئې
سپو ته اچولې چی به هغوی سره
به ئې ګذارن کاوه . لرغونی
انسانان به ډېر خوښ ؤ چی
سپیان ولری، ځکه چی سپیان

دشامی او سامعې قوی حسونه لری او ددوی په واسطه کولای شی چی دښکار څرك وڅښتن ته معلوم کړی او یادوی د دښمنانو له راتګ نه خبر او نجات ور کړی .

موږ داوسنی آسترالیائیانو له کتنی څخه حدس وهلای شو چی لرغونیو انسانانو څرنګه سپیان تربیه او اهلی کړل .

استرالیائیان د سپیانو نسل ګیری نه کوی بلکه وحشی کوتریان له ځنګلو څخه رانیسی او تربیه کوی ئې خو کله چی د غریزی عمل پواسطه تحریك شی چی ځانته جفت پیدا کړی بیرته ځنګلو ته ځی او وحشی ګرځی تصادفاً یو سپی پکښی پیدا شی چی د خپل څښتن سره ترمرګه پوری واوسیږی .

داډول سپیان ډیر ارزښت لری او خوراښه خواړه ور کول کیږی .

دژوو اهلی کول دانسان دهغه ذوق او مینی څخه سرچشمه اخلی کوم چی د ژوو د بچیانو سره ئې لری . د څارویو واړه چیچان ډیر ښایسته او د ساعت تیری وړدی وګړی لوبی په کوی او خپل ساعت په تیروی .

هر ښکاری چی د کوم حیوان تاتوبی و مومی د حیوان نر او ښځه حلالوی او چیچان ئې و خپلو کوچنیانو ته کور ته راوړی چی لوبی په وکړی .

کوچنیان او حتی لویان هم د ژوو د چیچانو سره ډیره مینه لری . خپل واړه چیچان تر ممکنه وخته پوری ساتی او روزی . لیکن کوم وخت چی ضرورت ورته پیدا شی او یا لوی شوی چیچان خطرناك ثابت شی حلالوی ئې .

حیوانات په اول کی د ساعت تیری او مفیدوالی له کبله اهلی شول اما کوم وخت چی انسانانو حیوانات په عملی کارو کی او یا نورو مقصدونو لپاره په کار واچول نو ئې د ډیر شمیر ژوو په کورنی کولو پیل وکړ . یو وخت انسانانو نسبت و نن ورځی ته ډیر انواع اهلی حیوانات درلودل . په لرغونی مصر کی ډیر اهلی سویان او هوسۍ وې لیکن څرنګه چی هوسۍ او غرڅه نسبت و نورو ته لږ مفید ثابت شول نو ئې اهلی کول هم پریښودل شو . تول ژوی دانسان سره د ژوند او تطابق کولو قابلیت نلری ، ښائی په کوچنیوالی کی ډیر آموخته او آرام وی لیکن کله چی لوی شی د دوی وحشی طبیعت بیرته راښکاره شی . سویان ښائی چی په کوچنیوالی کی په یوه مخصوص ځای کی واوسیږی لیکن کله چی لوی شی بیرته دښتو او کښتو ته تښتی . د پرانګ چیچیان په کوچنیوالی کی ډیر ښایسته او آرام وی لیکن کله چی لوی شی ډیر خطرناك شی او پر خپل څښتن نابیره حمله کوی .

خوك او چرګ په جنوب شرقی اسیا کی کورنی شوی دی . دوی په اول کی د مذهبی مقصدونو لپاره لکه په قربانی او خیرات کی حلالیدل . زموږ ډیر لیری نیکونو عقیده درلوده چی د چرګ اذان بیریان او شیشکان بیروی او تښتوی . همدارنګه خوګان هم د ځینو عقیدو له مخی اهلی کړل شوه .

داسیا په جنوب غربی سیمو کی د حیوانانو اهلی کول ډیر عملی ښکاری . پسونه ، وزی ، خره او ښان او نور مواشی لومړی پلا دلته روزل شوی او اهلی شوی دی .

پسونه له درو وحشی نوعو څخه

چې ورېښتان ئې درلودل نه وړی په وجود راغلی دی او دغوښو لپاره استعمالېدل. خره له وحشي خرو څخه منځ ته راغلی چې تل دمالونو د وړلو اوراوړلو لپاره استعمالېدل.

اوښان، داسې ښکاري چې له خپلې اصلي وحشي نوعې څخه په لږ څه تغیر په وجود راغلی دی. اوښ په دښتو او صحراؤ کې تطابق کولای شي او هغه وخت چې انسان اوښان اهلي کړل په دښتو کې تګ اورانګ آسانه شو او اوښ دلیري واتنو د تجارت لپاره مهم عامل وګرځېد.

لنډه دا چې دنن ورځې مواشي له دوو وحشي نوعو څخه منځ ته راغلی دی. یوه نوعه ئې هغه مختلف ژوی دی له کومو سره چې موږ آشنا یو او بل ئې د هند کوهان او بوک لرونکی مواشي دی. دمواشي ؤ په اهلي کېدو سره یوه انقلابي اقتصادي اختراع: شیدې، غوړی، پوستکی او وړی په وجود راغله. شیدې او حبوبات په ګډه د انسان یوه مهمه غذا وګرځېدله چې دژوند لپاره تول ضروري عناصر پکښې موندل کېږي.

یو بل حیوان چې د انسان په پرمختګ کې دمدنیت وخوانه لوی رول لوبولی دی آس دی. د آسانو ګلې دیخچالی دورې نه وروسته په اروپا کې خپرې شوې او دغوښو لپاره به ښکار کېدل دقبل التاریخ به ځینې حکاکي اثارو کې آسان ځین سره لیدل کېږي او دا ځنې ښکاري چې حتی په هغو ورځو کې انسانانو د آسانو په اهلي کولو پیل کړی ؤ لېکن په دې باره کې چې ایا دوی د سوارلی کار ځنې اخیست په یقیني ډول معلومات نلرو.

کوم وخت چې د اروپا اقلیم تودشو او ځنګلونه پکښې پیدا شول، آسانو چې ځانته پراخه او خلاصه مځکه غوښته د ختیځ وخوانه وخوځېدل او اسیاته ولاړل. پدغه ځای کې دی چې آسان په حقیقي ډول د سورلی لپاره اهلي کړل شوه.

آسان لومړی اهلي حیوانات ؤ چې د جنګ لپاره استعمال شول که څه هم هندیانو جنګي پیلان درلودل، خو پیلان هیڅکله اهلي شوی ندی بلکه مطیع او تابع کړه شوی دی.

آسانو د هوارو مځکوو وګړو ته ممکنه کړه چې د خپلو لیرې ګاونډیانو ولیدلو ته ولاړ شي پر دښمن نابېره برید او حمله وکړي، پلی او پیاده سړی د مخه تر دې چې ځنې وتښتي راګیر او ایسار کړي. که چیرې دښمنانو غونډه او جرګه جوړ وله سواریان کولای سوای چې د لیرې څخه برید پرو کړي او د دوی غونډه او جرګه ورماته کړي.

یو بل ژوی چې اهلي شوی ګوزن دی. د ګوزن اهلي کول ډېر وروسته منځ ته راغلی دی.

هغو وګړو چې و شمالي سړو ملکو ته ولاړل، هلته پورته ذکر شوی ژوو ژوند نشوای کولای نو ئې ګوزن اهلي کړ او د مالونو د وړلو اوراوړلو لپاره به ئې استعمالاوه.

لنډه دا چې لومړی اساسي تحول یعنې د افزارو او اور استعمال انسان ته قدرت ور کړ چې خپل محیط تر کنترول لاندې ونیسي او دوهم اساسي تحول یعنې د حبوباتو کرل او د ژوبو اهلي کول انسان ته توان ور کړ چې ځائې ژوند غوره کړي او اجتماعي ژوند شروع کړي دي*

ښاغلی «رشاد»

اشرف الوزراء شاولیخان «بامیزی»

بګی خان پوپلزی «پښتون» په پوپلزو کی بامیزی قبیلې او صالح زی پښی ته منسوب دی صالح زی پښه هغه صالح خان ته منسوبه ده چی د سدوزو د مشرتیکه سدوخان ورور ؤ . د ۱۱۵۰ هـ ق کال را په دیخوا بګی خان په هغه څورلسو تنو پښتنو سردارانو کی چی د نادرشاه په لښکر کی ئې د پښتنو سپاهیانو مشرتوب پرغاړه درلود شامل ؤ . په ۱۱۶۰ هـ ق کال چی لوی احمدشاه بابا په کندهار کی د پښتنو په سیاسی مشرتوب وټاکه شو، دی ئې دوزیراعظم په حیث مقرر کړ د اشرف الوزراء په خطاب او د شاه ولیخان په لقب ئې ونمانځه .

د بګی خان پر مهر باندی او مړی دا بیت کیندلی ؤ .

در بارهٔ من چون کرم لم یزلی شد — بګی بودم ونامم بجهان شاه ولی شد

بیا ئې د «بګی بودم» جملهٔ ځنی وغورځوله او په دې ډول ئې ترمیم کړ :-

دربارهٔ من چون کرم لم یزلی شد
القاب ز شاهم بجهان شاه ولی شد

د دولت درانیه په پوولسم مخ کی لیکلی دی چی اشرف الوزراء لوی احمدشاه بابا ته بې ساری اخلاص درلود او خوښ ؤ چی د لوی احمدشاه بابا د بری په لاره کی د خولو پرځای خپلی وینی وبهوی .

په ۱۱۶۴ هـ ق کال چی لوی احمدشاه بابا دوهمه پلا د نیشاپور، مشهد، او طوس لور ته لښکری وخوځولې او نیشاپور ئې کلابند کړ د نیشاپور حاکم عباسقلی بیات د شاه ولی خان په وسیله د لوی احمدشاه بابا حضور ته د نیشاپور د سپارلو عرض وړاندی کړ لوی احمدشاه بابا چی د دغو ځایو تر مکرری استیلا وروسته هرات ته راستون شو . شاه ولی خان ئې له یوه تکړه فوج سره د هندوکش او آمو ترمنځ سیمو د نیولو له پاره وګماره ده هم دا کار تر سره کړ او په هره سیمه کی ئې افغانی حاکمان مقرر کړل شاولیخان چی تر دې سو بې وروسته د بامیان او کابل له لاری کندهار ته راستون شو اعلیحضرت لوی احمدشاه بابا هم په دغو نژدو ورځو کی له هراته کندهار ته راورسېدلی ؤ او د اشرف الوزراء شاه ولیخان له فعالیته څخه ډېر راضی شو .

---

* تحول د ماشین تر اختراع او د حرارت د قوې تر کشف تر وختو پوری ادامه درلوده چی د ریم اساسی تحول منځ ته راغی او ډېر شیان په وروسته پېړیو کی پېښ شول . کلتور بر اختیا او انکشاف وموند ښارونه ودان شول او فاتحینو لوئی امپراطوری جوړی کړی او بیا بیرته ځنی ونړېدلې . «پای»

په ۱۱۶۵ هـ ق کال چې لوی احمدشاه بابا د لاهور د مغلي حاکم میرمعین الملک د ځبلو له پاره پنجاب ته فوجونه ورسول اشرف الوزراء شاه ولیخان هم ورسره ؤ د دغه کال د دوهمي خور په منځ کې چې د میر معین الملک فوجو د لوی احمدشاه بابا پر لښکرو لاهور ته نژدې یرغل وکړ، دی د احمدشاهي فوج په کېڼ غوږي کې ولاړ ؤ او کلکه مقابله ئې وکړله، او د دریمي خور په لومړي ورځ چې د میرمعین الملک فوجونه مات شول میر معین د اشرف الوزراء شاولي خان په وسیله د لوی احمدشاه بابا حضور ته وړاندې کړه شو.

په ۱۱۷۰ هـ ق کال چې لوی احمدشاه بابا هندوستان ته څلرمه پلا ولاړ اشرف الوزراء شاه ولیخان ورسره ؤ او د ۱۱۷۰ هـ ق کال د دوهمي خور په درویشتمه ورځ ئې تر لوی احمدشاه بابا یو مزل د مخه له خپلو لښکرو سره په [بادلي] نومي ځای کې چې له ډیلي څخه شپږ میله لیرې ده واړول دلته د ده د فوج او د یوې دستې مرهټو لښکرو چې [انتاجي مانک ایشور] اداره کول یوه سپکه مقابله وشوه د غلیم سل مېړونه ووژل شول نور ئې په تیښته ولاړل. د دوهمي خور په ۲۷ ورځ د ډیلي د دربار وزیر ناسیاله غازي الدین سهروردي د د اشرف الوزراء شاه ولیخان کمپ ته ورغی او ورسره وئې لیدل نوموړي غازي الدین د ده په وسیله د لوی احمدشاه بابا په حضور هم مشرف شو او څو ورځې پس د اشراف الوزراء په توسط د ناسیاله غازي الدین څخه د یو کروړو روپو جواهرات او تر درولکو دانو زیاتي اشرفۍ احمدشاهي خزانې ته تحویل شولې. سردار جانخان چې د متهرا تر نیولو، سوځلو، لوټولو وروسته اګرې ته وګماره شو د لوی احمدشاه بابا له خوا د متهرا په سیمه کې د یاغیانو ایداد شاه ولیخان ته وسپاره شو.

په ۱۱۷۱ هـ ق چې نصیرخان بلوڅ په کلات کې د استقلال نغاره وډنګوله لوی احمدشاه بابا یو فوځ د اشرف الوزراء تر مشرتابه لاندې ورولېږه نصیر خان چې خبر شو بلوڅ فوځونه ئې مستنګ ته راوستل مستنګ ته نژدې په فرینګوز «۱» کلي کې جنګ وشو د اشرف الوزراء فوجوماتي وکړه او دېرش میله د جنګ له ځایه تر شا شول مګر ډېر ژر ئې لوی احمدشاه بابا پخپله له کندهاره څخه په مرسته راورسېد او نصیرخان ئې په کلات کې کلابند کړ څه موده پس نصیر خان د اشرف الوزراء په وسیله د لوی احمدشاه بابا حضور ته راغی او عفوه ئې وغوښتله.

په ۱۱۷۳ هـ ق کال چې لوی احمدشاه بابا پنځمه پلا هندوستان ته ولاړ اشرف الوزراء ورسره مل ؤ.

د ۱۱۷۴ هـ ق کال د دوهمي خور په څورلسمه [۱۷۶۰ ع د نومبر ۲۲] د پاني پت په ډاګ کې د سیندهیا فوجونو د اشرف الوزراء پر فوج باندې د شپې ناڅاپه برید وکړ د اشرف الوزراء فوجونه ئې په مقابله بوخت ؤ چې نور بښتني فوجونه ئې په مرسته ور ورسېدل او مرهټه ئې وتښتول د پاني پت په تاریخي لوی جنګ کې اشرف الوزراء د احمدشاهي لښکرو په منځ کې له ۱۹ زرو سپاهیانو

«۱» د دې ځای نوم پوتینګن یا فرینګوو ده ضبط کړی دی.

سره ولاړو د جنګ په شروع کی مرهټه پرسته مسلمان افسر ابراهیم ګاردی چی د کفارو د فوج په کین غوږی کی ولاړو د مسلمانانو د فوج پر ښی غوږی برید وکړاو د حافظ رحمت خان، دوندی خان، بریڅو او احمد خان بنګش فوجونه ئې له ځایه بیځایه کړه په دې حمله کی د شاه ولیخان د فوج د ښی څنګ صفونه هم سره مات شول د مرهټو پیشوا زاده [بسواس] او سپهسالار ویشوانات بهاو چی دا ولیدل د اشرف الوزراء پر فوج ئې یوه سخته حمله وکړه پښتنو دا حمله وته سهلای شوه او څه ترشا وڅکیدل اشرف الوزراء چی دا حال ولید له آسه کښته شو او مرګ ئې ترتیښته غوره کړ څو تنه ملګری چی ورسره پاته ؤ د هغو په ملګری ئې له یوې خوا د مرهټو کلک مقابله وکړه او له بلی خوا ئې خپل نیت وبرک فوج بیرته راغونډ کړ او د مرهټو مخه ئې ونیوله. یو هندوستانی مؤرخ وائی: زه په دغه وخت کی شجاع الدوله له خپله فوجه څخه چی د اشرف الوزراء د فوج کین څنګ ته ولاړ ؤ د اشرف الوزراء د حال د معلومولو له پاره راولیږلم ما ولیدل چی دی پلی ولاړ دی خپلو افسرانو ته بدو ردوائی او جنګ ته ئې لمسوی.

ذکاء الله هلوی د تاریخ هندوستان د نهم ترک په ۳۰۸ مخ کی دا هم زیاته کړیده چی اشرف الوزراء شاولیخان په دغه وخت کی شجاع الدوله ته سړی ورولیږه چی مه ګوره پر مرهټو باندی برید کوه ګوندی ئې په دې توګه فشار له موږه کم شی مګر شجاع الدوله ئې د مرستی همت ونه کړ او ډیر ژر ئې د لوی احمدشاه بابا خپل فوج (دغلامانو دسته) په مرستة را ورسیدله او مرهټه ئې ترشا کړه د برات د میاشتی په شروع کی پانی پت ترسو بې وروسته اشرف الوزراء شاولیخان له ډیلی څخه د لوی احمدشاه بابا په امر د سورجمل جاټ ځبلو لره دا ګرې لورته ولاړ په دې لښکر کی د دوهم عالمګیر کونډه [زینت محل] د دوهم شاه عالم پاچا زوی جوانبخت او د دوهم عالمګیر زوم میرزا بابر هم ورسره ملاؤ دا فوج ترمتهرا پوری ولاړ مګر لوی احمدشاه بابا بیرته ډیلی ته وروغوښت او افغانستان ته ورسره ولاړ.

په ۱۱۷۵ هـ ق کال چی لوی احمدشاه بابا شپږمه پلا هندوستان ته ولاړ اشرف الوزراء ورپسې ؤ او کله چی لوی احمدشاه بابا له څو تنو سپرو سره ځان جندیلی ته ورساوه اشرف الوزراء هم له درو زرو سپرو سره ماښام ته پسې ور ورسید.

او د ۱۱۷۵ هـ ق کال د رجب په میاشت ئې آته زره سپاره د زرین خان مهمند په ملګری د سړلاڼ فوج په حیث په سکهانو پسې وخوځول.

[پاته لری]

پخې خبری

دارو پائی تمدن اساس جګړه ده او کوشش، د آسیائی تمدن اساس کوم شی دی؟ د تسلیم او انتظار.

[ویکتور برار]

د جهانی سولی د بقا دپاره باید ولسونه سره نژدې سی نه دولتونه.

[انتونی ایدن]

د علم النفس پېژندنه

[۲]

۳- دغه سبب ؤ چې د علماؤ دریمه ډله علم النفس په [علم الشعور] سره تعریفوي . او د دوی مقصد له ې څخه دادی چې انسان یو ژوندی کائن دی او د دې شعور هم کوی چې دی ژوندی دی او په دې پوهیږی چې دده د ځانه سره ځنی غیر مادی امور اړیکی لری . او هغه هم معنوی امور دی لکه: ادراک، د خوشالی او د د شعور، میلونه، عواطف، له یوه شی څخه ادر او وبل شی ته اړنی اخیستل، نو څنګه چې موږ پوهیږو چې دغه امور چې دی توله د شعور په دائره کی داخل دی نو دا ممکنه ده چې د علم النفس تعریف دی په دې سره وسی چې علم الشعور دی .

د علماو دغه ډله د شعور یو نو په نامه یادیږی او دا ډله د نفس د حقیقت او یا د عقل د طبیعت په باره کی څه نه وائی بلکه یوازی د شعور او دده د مظاهرو پر شاوخوا باندی ږغیږی د دوی د دې خبری دلیل دادی چې وائی دا هیڅ فرق نه سره لری چې موږ ووایو چې دغه معنوی امور چې د عقلی امورو په نامه مسمی دی چې یا د هغو کیمیاوی انفعالاتو او تغیراتو له اثره څخه دی چې په بدن کی جریان لری او یا په یوه خاصه هستی پوری مربوط دی چې هغه د نفس او یا عقل په نامه نومیږی ځکه موږ په دې کی شك نه لرو چې دغه امور خواوس دستی په دستی موجود دی لکه موږ ته چې د خپل شعور په وجود کی شك نه رالویږی او د دغه شعور تحلیل او دده هستی د عناصرو څېړنه او دده د طبیعت پېژندنه توله د علم النفس موضوع تشکیلوی .

مګر د «فروید» او دده د ملګرو د نظرئې تر اظهار وروسته نوموړی تعریف بې کفایته سو او د دې قابلیت نه شو ورپاته چې ودی منل سی ځکه دغه نظریه چې ده د [لاشعور او باطنی عقل] په وجود اقرار کوی او دا ضروری ده چې باید د علم النفس په مسائلو کی دغه مسئله هم ځای ولری ځکه د شعور او یا د ظاهری عقل په سلوك کی د لاشعور او باطنی عقل ډېر مهم اثرونه پېښېدونکی دی چې باید هرومرو وڅېړل سی .

٤- په دغه سبب او علت چې د علم النفس اکثره تعریفات اړوګړونګ او ناقص وه او یو داسی تعریف نه پیدا کېدی چې نوموړی علم دی په یو علمی طریقه سره معرفی کړی نو د امریکایانو [نوی مکتب] او د دغه مکتب پیروانو د علم النفس د پاره دا تعریف غوره کړی چې [علم د راسته السلوك] او دغه مکتب د سلوکیونو او یا مسلکینو په نامه یادیږی او دا هغه څوك دی چې د شعور وڅېړنی ته په علم النفس کی یو لوی اهمیت ایږدی او دوی چې ئې ودې خبری ته واداره کړه ځینی سببونه ئې دادی:

لومړی داچی دوی د حیواناتو د سلوك وڅېړنی ته لوی اهمیت ورکوی په زیاته بیا د عالی حیواناتو او داددې دپاره چی دوی د انسانی غرائزو په څېړنه ومفید و حقائقو ته ځان ورسوی او همدا ډول د انسانی عقل تطور تر خبرو لاندی سی او دغو حقائقو ته رسېده په دې ډول سره ممکن نه دی چی سړی د حیواناتو شعور پسې راواخلی بلکه په دې شان کیږی چی د حیواناتو سلوك د طبیعی او غیر طبیعی ظروفو له مخی تر نظر لاندی ونیسی بله لا داده چی حیوان که څه هم شعور لری خو د دغه شعور یو واضح او راساً څېړنه محاله ده ځکه په حیوانی شعور یوازی پخپله حیوان پوهیږی او دا نه ده ممکنه چی حیوان خپل شعور وموږ ته بیان کړی نو ښکاره سوه چی د شعور څېړنه ممکنه ده او دا هغه یوازنی وسیله ده چی و دغو قیمتی حقائقو ته سړی رسولای سی .

دوهمه خبره داده چی د کوچنیانو، لویانو، پوهانو، او لیونیانو د تولو نفسیات باید چی په علم النفس کی وڅېړل سی او دا کار بې د سلوك له مطالعې څخه ممکن نه دی ځکه د کوچنی شعور خو و پوخوالی ته نه وی رسېدلی او نه له خپله شعوره څخه په کامل ډول سره بیان کولای سی او هر څه چی لیونی دی او یا بل داسی څوك چی روحی رنځ ورته پېښ وی او له عادی حاله څخه اوښتی وی د هغو په خبره بیا اعتماد نه کیږی او نه ئې د خپل شعور په باره کی اظهارات د منلو وړ دی .

دریمه داده چی هغه نفسی او باطنی ملاحظه چی شعور یون ئې و نفسی حقائقو ته د رسېدو په لار کی قابل اعتماد ګڼی ممکنه نه ده چی له یوه مخه دی سړی و منی ځکه نواقص لری او دقت نه پکښی کیږی ولی هغه عقل چی ځان ملاحظه کوی یا به خپل اعمال په داسی حال کی مطالعه کوی چی فعلاً دی ورسره مخامخ وی او یا به ئې وروسته تر حاصلېدو او تېرېدو په یاد راولی خو په دواړو صورتو کی ئې ملاحظه او مطالعه ناقصه ده په لومړی صورت کی ځکه نواقص لری ولی چی د عقل قواوی په داسی حال کی چی ځان ئې د عمل په وخت کی تر ملاحظې لاندی وی نو هر ومرو سره تیت و پرك دی او ودوو ډولو ته وېشل کیږی، یو ډول به ئې مراقبت کوی، او بل ډول چی په اعمالو بوختی وی تر مراقبت به لاندی وی او په دې شکل نو دا دواړه کاره که مراقبت دی او که عمل په ناقص او غیر طبیعی ډول سره دی «۱» د دوهم صورت دلیل دادی چی د یوې عقلی حادثې بیان پسله دې څخه چی حاصله او تېره سی په دقیق ډول سره نه کیږی ځکه نفسی جریانات چی دی ژر ژر تغیر کوی نو دا ډېره مشکله ده چی یوه حادثه دی پسله تېرېدو څخه په تفصیل سره تکی په تکی بیان سی. څلرمه وجه داده چی*

«۱» هغه نوی تجربې چی د المانی [بورتسورج] مدرسې اجرا کړی دی داسی ښیی چی عقل په خپل ځان کی و دوو برخو ته نه وېشل کیږی چی یوه برخه دی عمل کوی او بله برخه مشاهده، بلکه خبره داسی ده چی عقل متذبذب کیږی تو له یو ګړی به عمل اخته وی او بل ګړی بیا د خپل عمل و ادراك او مشاهدې ته رجوع کوی خو د تقسیم نظریه ئې باطله کړېده .

* د یوه سړی باطنی شعور بل څوك نشی ملاحظه کولای ځکه دا امکان نه لری چی ملاحظه کوونکی دی د هغه چاله شعوره سره یو حسی اتصال پیدا کړی چی تر ملاحظې ئې لاندی وی او همدارنګه که هغه تر ملاحظې لاندی سړی خپل شعور بیان کړی خو د پوره اعتماد وړ نه کېږی که څه هم په بیان کی هر ګوره نامی وی ځکه خبری چی دی د عقلی اعمالو بیان په دقیق ډول سره نسی تصویر کولای .

دا تو له خبری چی وسوې داسی نه ده چی د مسلکیونو لاس-لیوی نو یوازی په سلوك پوری ښه ثابتوی او د دې دلیل کېدای هم نه سی چی د علم النفس د مبادیو د استنباط د پاره دی یوازی د سلوك طریقه غوره سی بلکه لومړی او دوهمه فقره چی وه صرف دا ئې ثابتوله چی په غیر عادی حالاتو کی د سلوك طریقه اهمیت لری او له ئې څخه نو دا نه فهمیږی چی د ځان یا د بل ملاحظه نو په عادی حالاتو کی چندانی فائده نه لری هر څه چی څلرمه او پنځمه فقره ده هغه داسی ښکاره کوی چی د نفسیاتو په باب کی که د دریمی فقرې ډول دی او که د څلرمی فقرې خو کفایت نسی کولای او هر ډول ئې نواقص لری اصلی کار دادی چی یو نفسی عالم صرف په ئې نه قانع کیږی چی ځان دی د ځان تر ملاحظې لاندی راولی بلکه د دغی ملاحظې نتیجه د هغې ملاحظې له نتیجې سره مقایسه کوی چی بل څوك ور رسېدلی وی او حقیقت هم دادی چی اکثره بااهمیته نفسی مبادی په دغه طریقه سره ولاس ته راوستل سوی دی او په راوروسته کی به ئې تاسی هم وګوری بنا پر دې نو د علم النفس تعریف په علم السلوك سره همدارنګه ئې کفایته او قاصر دی ځکه دغه تعریف چی دی د علم النفس د حقیقت پر یوه جزء باندی دلالت کوی او تو له حقیقت ئې نسی تعبیر ولای او په علم النفس کی باید چی هر ومرو دا دواړه شیان موجود وی . اول : د ځان او یا د بل مطالعه د شعور د ملاحظې له لاری . دوهم : په انسان او حیوان کی مطالعه د سلوك له لاری . نو په دې وجه لازمه ده چی دغه دواړه شیان ئې په تعریف کی برخه هم واخلی .

موږ ته اوس دلته دارا پاته ده چی دوه تعریفه لاندی ذکر کړو ممکنه ده چی له دوی څخه دی و مطلوب تعریف ته ورنژدې وګڼل سی .

۵ . لومړی تعریف [علم النفس] یو وصفی POSITIRE علم چی له سلوك او امیالو څخه بحث پکښی کېږی .

۶ - دوهم تعریف : علم النفس یو علم دی چی له سلوك او شعوری اعمالو او یا هغو اعمالو چی شعوری اعمالو ته نژدې کت لری او له ژوندیو افرادو څخه صادریږی بحث پکښی کېږی . که موږ له دغو دوو تعریفو څخه هغه غټی خبری راواخلو ښائی چی د علم النفس داسی تعریف په وکړو یو بیانی علم دی چی له شعوری اعمالو او امیالو او هغو امورو چی شعوری امورو ته ورته وی بحث پکښی کېږی . د « بیانی » کلمې زیاتوب هر و-مرو په دې تعریف کی ضروری دی ځکه د بیانی کلمې معنی دلته داده چی علم النفس په عقلی اعمالو کی یوازی له دې ناحیې څخه ږغیږی چی دوی څنګه دی نو ګویا صرف بیان

ئې کوي او نه غواړي چې د ښه او بد حکم دي باندې وکړي او نه دا وائي چې دا باید وسي دا باید و نه سي ولي چې دا علم لکه علم الاخلاق دا سي نه دي چې پر انساني سلوك باندې به دي عبث خبري چې کوم څه لازم دي چې د کولو د پاره غوره سي .

[شعوري اعمال] چې په تعریف کې ذکر شوه ټوله هغه اعمال که ارادې که غیر ارادې چې د شعور په دایره کې داخل وي کښېباسي ئې او دا شعور نو که دا نسان وي که د حیوان که د کوچنۍ وي که د لوي که د پرسد وي که د لېونۍ . یعنې هغه اعمال چې و شعوري اعمالو ته نژدې وي دا د دې د پاره په تعریف کې راوړه سوه چې د علم النفس په مباحثو کې د نفسي تحلیلاتو مهمه موضوع او د لاشعوري یا باطني عقل څېړنه او د دغه عقل د علاقې مسئله له شعوري عقله سره ټوله پکښې شامل سي .

په علم النفس کې د زغېدو لاري

علم النفس چې کله کله د طبیعي علومو په ډله کې ور کښېږي او د هغو صفات او ممیزات په ځان کې پیدا کړي نو حقائقو ته د رسېدو په لار کې د هغو لاري پسې ور اخلي او د هغو د تهذیب او تنظیم چې تر عمومي قوانینو او اصولو لاندې خپل متفرقات راټولوي او سره یو ځای کوي پر پلو باندې پل ایږدي .

هغه لوی کوښښونه چې د روانې پېړۍ له اوائلو څخه نفسي علماؤ شروع کړي دي ډېرې ښې نتیجې ئې ور کړي دي او د علم النفس د ترقي په لار کې لوی اثرات ښندلي دي او د طبیعي علومو په منځ کې ئې نوموړي علم و لوړي درجې ته رسولي دي موږ وینو چې ورځ په ورځ نوموړي علم پر نورو علومو او فنونو باندې غلبه کوي او د دوی په مباحثو کې له یوې خوا څخه مداخله کوي او له بلې خوا څخه د دغو علومو او فنونو په اثر سره متأثر کېږي او د دوی له حاصلو نتائجو څخه ګټه اخلي دغه سبب دي چې د علم النفس مسائل ئې ډېر کړي دي او مباحث ئې تیت و پرك پراخ سوي دي او د دې درجې ته ئې خبره رسولې ده چې باید هر و مرو علم النفس و څو متعدد و فروعاتو ته وویشل شي چې د وګړو و حقایقو ته ځان ور سوي نو ځکه د رسېدو د پاره د هغو علمي طریقو پیروي کوي لکه نور طبیعي علوم چې ئې په خپلو مباحثو کې تر نظر لاندې نیسي او ځینې له هغو طریقو څخه دادي :-

۱- د فرضیو فرضول او په دوې کې له منطقي ناحیې څخه زغېدل او له هغو څخه نظر ئې په لاس راوستل لکه دا طریقه چې په فلسفه او په هغو علومو کې پالل کېږي چې خاص نظري وي یعنې فکري .

۲- په آلاتو او سامانو سره د کمیت اندازه لګول .

۳- په معیاري ازموینو او پوښتنو سره د نوعیت اندازه لګول یعنې دا معلومول چې دا څه نوع او ډول عقلي عمل دي او پېښېده ئې څه ډول دي .

٤- ټوله معلومات او مشاهدات راټولول او له هغو څخه هغسي علمي قوانین را ایستل چې د یو جمعیت پر ډېرو افرادو باندې تطبیق کېږي .

٥- هغه طریقه چې علم النفس ئې له نورو ټولو علومو څخه راجلا کړي او یوازې د ده طریقه ګڼله کېږي چې هغه د باطني تأمل او ذاتي ملاحظې طریقه ده .

«پاته لري»

لیکونکی: [موریس میترلینک]

پښتو کوونکی: [ښاغلی م، ع]

ځینې لیکوال موږ له لوستلو څخه

خواتوری کوی

ځینې لیکوال په زړه پورې ناول یا ډرامو لیکونکی موږ له لوستلو څخه داسې متنفر کوی چې له ویلو څخه موږ ته راووهی دوی دا تصور کوی چې که یه دهر دقت د عاموخلکو پست امیال، احساسات او افکار په خپل کتاب یا مقاله کې ځای کړی د دوی د لیکنې ارزښت به زیات شی او خلک به وائی:- څو نه ښه لوی لیکوال دی چې داسې ښه پست او لوړ نې افکار او احساسات ئې په خپله لیکنه کې ځای کړی دی او هغو نه ئې څه ښه پوښ ورو اغوستی دی، حال دا چې داسې نده، انسان اکثر ځرنګه چې په عادی ژوند کې د بو پست یا احمق سړی سره په تکلیف کېږی په کتاب کې هم نسی کولای چې کښته ارزوګانې او لوړ نې افکار مطالعه کړی.

ځینې لیکوال هاته وائی: چې دا افکار او تمایلات د هنر په چوکټ کې او بدلی او ښکلی سوی دی او هنر داسې دی لکه اور چې هر شی پاک کولای سی که څه هم بخپله هر څو مره ناولی وی.

ولی دوی دا هم کړی دی چې اور هغه څه پاکولای سی چې د اور په مقابل کې مقاومت واری ...

دا منم! چې که یو وه ناپاکه او ښه پاد بره اور نه واچوله سی یا کېدای سی خو ناولی کاغذ که اور نه ورنژدې سی فوراً ئې له منځه وړی او هیڅ ځنې پاته کېدلای نسی.

دا لیکوال بیا زما په جواب کې وائی: موږ قصداً دغه ډول لیکو چې خلک فاسد، منقلب او تبه کاره اشخاص وپېژنی او تجربه پیدا کړی.

زه ئې په جواب کې وایم موږ د خلکو د پېژندلو د پاره هیڅ احتیاج نه لرو چې کتاب ووایو او نور او سه لیدل سوی هم نه دی چې څوک دی د کتاب په لوستلو [سړی پېژندونکی] سوی وی.

موږ هر یو که سواد هم ونه لرو د ژوندانه د مقتضیاتو په حکم د سړی پېژندلو حس لرو او په دې پوهېږو چې ښه سړی څوک دی او بد کوم یو دی او یوه ورځ کافی ده چې په ناستې ولاړې یا تماس سړی و پېژنو چې دا لار تر ۱۰ کالو مطالعې لاندې تاثیر لری.

په یوه ناول یا لیکنه او مقاله کې چې هر څو مره مبتذل خبری ډېری وی او په زیاته پیمانه پست امیال او احساسات پکښې کار سوی وی عوام د هغه ډېر تعریف او ستاینه کوی او هغه واقعی او طبیعی بولی زه و داسې عامه قضاوت نه هیڅ اهمیت نه ورکوم ځکه دیستو او کښتو افکارو تکرار او بیر هغه قضاوت کښته کار بولم.

زه وایم ناول، مقاله یا هره لیکنه چې وی باید د خلکو د

«په ۱۵ مخ کې»

دهند د ویکلي ریویو له اخباره څخه — د [نجیب] ترجمه

په کندهار کې د آشوکا فرمان

زموږ بوه هیئت چې دیوان چونک د ځینو د پیدا کولو په غرض سره دمې د ۲۹ او د جولائي د میاشتې د ۲٤ نېټې په مابین کې د افغانستان نه سفر وکړ خو سره له دې هم نکالیفونې دهغې مملکت په جنوبي او جنوب غربي سیمه کې د نورو ځینو څرک پیدا نکړ مګر د آشوکا کې کبیر د فرمان میندارنې چې په آریک یا سیریائي او یوناني ژبه لیکل شوی ؤ زړه ته ډېر خوشاله کړه. او بېدې سره دهند او افغان تاریخ لا ښه رڼا نه شو د دغه فرمان کتیبه د کندهار به زاره ښار کې چې تاریخي نوم ئې اسکندریه یا اراکوزیا دی د باور وچهل ځینې نه ژې د سربوزي به محل کې ومیندل شوه دې فرمان له هغه تاریخي نظریې سره چې د کندهار نوم ئې له کندهارا څخه باله او ویل ئې چې اراکوزیا نو به پنځم قرن کې د افغانیانو له لاسه څخه له مشرقي سیمو څخه ودې ځی نه هجرت وکړ او اصلي ځای ئې کوندافرز ؤ ښه کرمک وکړ.

ښاغلی عبدالقدوس «نجیب»

هیرز فیلد زموږ د هیئت یو غړی عقیده لري چې دا فرمان د بخوانی آرمیک بوه برخه ده چې بخوائې به «تکسلا» او دارنتا کې څه بولکې میندلې شوې او د کوچنیو د برو د فرمان به نامه سره یادې شوې وې.

الف: د کتیبې د یوناني برخې ترجمه.

۱- اس کاله له تاج ګذاري څخه د پریادارسین یا چاندرشوې وه چې وخلکونه ئې رحم او د دیانت اصول ور وښوولا.

۲- پسله دې څخه د مخکې برسرباندې خلکو دې د منقي پرهېزګاره او پرېالي ولیدې.

۳- پادشاه د خلکو د ژوندله ازارولو څخه اجتناب وکړ او ماهیګیرانو ښکاریان ئې له ښکاره څخه منع کړه.

٤- هغو خلکو چې د ځان اداره ئې نشوای کولای د ده لا طرفه څخه برطرفه شوه.

۵- کوم خلک چې څه سر کښه وه د مورو د پلار او د سپین ږیرو مطیع شوه.

۶- په دې توګه سره به وګړی د یوه مسعود ژوند څښتنان شي.

ب: د کتیبې د آریک

برخې ترجمه

۱- لس کاله پس زموږ ستر پاچا بریادارسین د حقیقت او رشتیا ګلوی مؤسس شو.

۲- بدی په ټولو خلکو کې پر مخ ور که شوه او دی د بدبختانو د نیستی کولو سبب شو همدغه سبب دی چې اوس د مځکې پر مخ باندی تام امنیت دی.

۳- پسله دې څخه په زموږ سردار «ټولواک» و حیواناتو ته غذا ور کوله او لږ به ئې وژله نو ځکه ټولو خلکو د حیواناتو له وژلو څخه ډډه وکړه حتی د کبانو له ښکاره څخه ئې لاهم لاسونه واخیستل.

۴- هغو خلکو لا چې له بیعقلی ئې له ې کارو څخه لاس نه اخیستی خپل ناوړه عملونه پرېښوله.

۵- د مورو د پلار او حتی د سپین ږیرو لافرمان برداره شوه او هر څوک به ئې په تقدیر او قسمت سره ملزم باله.

۶- قضاوت و پرهېزګارو خلکو ته نشته.

۷- ولی چې دین و ټولو خلکو ته ګټور او فایده رسونکی دی.

ځینی لیکوال....

لوړه کړی چې په تدریج سره د عالی او پاکی زندګۍ له پاره استعداد پیدا کړی، ناول یا مقاله باید پلانی بې تربیته ځوان په دې پوه کړی چې که ته شپه تر سهاره د یوې لاری پر سر د یوې پیغلی سره تېره کړی باید د دې وعفت ته زیان ونه رسوي.

مقاله باید پلانی تعلیم یافته ځلمی په دې پوه کړی چې خواری او مفلسی عیب نه دی ځکه د نړۍ اکثر نوابغ مفلسه تېر سوی دی او هم داسی پوه سی چې درواغ، خطا ایستل، بې عفتی او د دوستانو سره خیانت بد کار دی.

غیر له دې که ناولونه یا مقالې په زرو کلونه پورته، کښته سی قیمت به ئې د پټو تربازۍ پورته نه وی.

اوستا

د باختری اریایانو باستانی کتاب

د زړو اریایانو د باستانی مذهب کتاب «ارستا» نومېدی چې نن ئې لږ برخی پاته دی او ډېره برخه ئې له منځه تللې ده.

دا کتاب د هغو اریایانو مقدس کتاب ؤ چې دوی له خپل ابائی ملک باختر څخه لوېدیځی خواته هجرت کړی ؤ. د دې کتاب تدوین د تاریخ پوهانو په اتفاق په باختر کی شوی او زردشت ته ئې حواله کوی.

د زردشت په تاریخ کی اختلاف دی او تر ټولو یوه درسته نېټه هغه بولی چې د یونان ستر پوهاند ارسطو ورکړی هغه وائی چې زردشت تر میلاد «۷» پېړۍ د مخه اوسېدی.

دا کتاب چې ایا د څومرو سرو د مجموعه وه یو رومی تاریخی لیکونکی پیونس د هرمیوس له کتاب څخه چې په لمړۍ میلادی پېړۍ کی لیکل شوی نقل کوی چې اوستا دوه ملیونه شعرونه درلوده.

مسعودی عربی مورخ په خپل کتاب مروج الذهب کی لیکی چې دا کتاب د ۱۲ زروغویو پر پوستو ولیکل شو او شاوخواته ولېږل شو.

کله چې باختری مځکی د سکندر تر یرغل لاندی وتیول شوې هغه د دې کتاب لویه برخه وسوځله.

یو انګلیسی پوهاند «ویسټ» وائی چې دغه کتاب ټوله ۳۴۵۷۰۰۰ کلمې درلودی چې اوس ئې ۸۳۰۰۰ کلمې پاته دی د دې کتاب او د هغه د مذهب پیروان تر اوسه سته او د باختری اریایانو باستانی مذهب هم زردشتی ؤ.

(تطبیقی تاریخ)

ښاغلی «نومیالی»

په هر تعریف چی «تاریخ» راواخیستل سی خو دا خبره پکښې ځائیږی چی و درو اقسامو ته ئې سړی وویشی :-

یو «بیانی تاریخ» بل «تطبیقی تاریخ».

بیانی تاریخ البته هغه دی چی تولهٔ واقعات ئې بوازی د بیان په احاطه کی ژوندی وی او حوادث ئې صرف د لیکنو په غېږ کی خوندی وی. دا ډول تاریخ په کتابو کی راپالل کېږی او د لوستلو له لاری څخه معلومات پکښې حاصلیږی، تر کمی اندازې چی د حقیقت او خطاء پوښتنه په «بیانی تاریخ» اړه لری نو په جواب کی ئې ویل کېدلای سی چی لیکنه خو لومړی د واقعاتو او حوادثو له پوره بیانه څخه تر ډېره حده عاجزه ده. بله دا چی هر تاریخ لیکونکی په خپلو حیاتی او اجتماعی مرحلو کی بېل بېل احساسات لری او ډېر لږ لیکونکی به وی چی په تاریخی مسائلو کی واقعات په حقیقی شکل معرفی کړای سی ځکه ارومرو به یا له یوې تاریخی واقعې څخه نفرت لری یا به له یوې تاریخی حادثې سره محبت لری او په دواړو صورتو کی ئې خپل شخصی احساسات په هره مرحله کی چی وی په ارادی یا غیر ارادی ډول، ځنی پکښې داخلیږی. مهمه خو لا داده چی بیانی تاریخونه اکثره د تولنو د مقتدرو طبقاتو تر نفوذ لاندی د دوی د سیاسی خوښی سره سم تصنیف کېږی او له دې جمه نور کوټه عوامل هم سته چی د داسی تولو دلائلو په رونا کی دا پوښتنه وسړی ته ځان ډېر غټوی چی آیا بیانی تاریخ به تر کمی اندازې حقیقت لری؟

په دې سلسله کی دا خبره د اهمیت وړ ده چی د بیانی تاریخ حقیقت او خطاء «نسبت د حادثې تر واقعیت» په خپله د تاریخ لوستونکی له باوره سره ډېره اړه لری ځکه که څوک خوش باوره وی او غواړی چی تر ده د مخه تاریخی جریانات صرف د کتابو له تورو څخه تحصیل کړی نو ښائی چی په تاریخ کی خپل خوښ مضامین ثابت حقائق وګڼی او د مرګ تر ساعته په خوشاله واوسی. خو که څوک بیا داسی نه وی نو ممکنه ده چی فیصله به ئې همداسی نه وی. په دې اساس نو بیانی تاریخ یو نکل دی او د رشتیاؤ د رواغ حکم هم د یو نکل په اندازه قبلولای سی.

تطبیقی تاریخ هغه دی چی د هرچا له موجوده جریانه څخه معلومیږی. هر ولس چی په هر ملک کی وکتل سی نو د هغه د ژوند له ثقافتی، اجتماعی، ادبی او فلسفی جریاناتو څخه چی هلته دستی په دستی شروع وی، دا نتیجه راوتلای سی چی د دې ولس د خلګو تر مخه څنګه خلګ له څنګه واقعاتو سره تېر سوی دی. ځکه د هرچا موجوده وضعیت چی ولیدل سی

نو خود بخوده دهغو د تاریخ حقیقي وضعیت معرفي کولای سي او په دې سړی پوهوی چی دا د پېړیو پېړیو جریان دی چی اوس په دغه موجود شکل د دغو خلکو په ژوند کی تطبیق سوی دی .

په تطبیقي تاریخ کی هیڅ د خطاء ځای نسته او نه ئې څرك د غلطی او صحت په منځ کی مشتبه کېږی ځکه د ژوند جاری جریان له خپله کوره څخه نیولی بیا تر هره ځایه پوری چی سړی وغواړی په مثبت ډول ئې مطالعه کولای سی . او دغه مطالعه نو د تاریخ تېر جریان او تللی واقعات په ښه ترتیب سره روښانه کولای سی ولی چی هر جاری ژوند د خپل تاریخ واقعی نتیجه بلله کېږی او د اجتماعیاتو په باب کی دا ډېره پخه خبره ویل سوېده چی نن د پرون نتیجه او د سبا مقدمه ګڼله کېږی .

که د تللی حوادثو په باب کی صرف د بیانی تاریخ پر بیانو اکتفاء وکړو نو ویلای سو چی په ساده نکلو مو اکتفاء کړېده او په داسی نکلو کی خو نو دا ړی هر ولس تر بل ځان کم نه بولی او که چیزی د کمبود احساس وکړی نو دستی په دستی ئې د بنډو کتابو په لیکلو او د کوچنیو نکلو په غنزولو سره تلافی کوی او په دې ترتیب نو د دنیا یو ډېر پاته ملت تر یو ډېر مترقی ولس خپل ځان لوړا یسولای سی .

لېکن که د تاریخ ملاحظه له حاضرو جریاناتو څخه پسې ور واخلو نو دنیا او د دنیا حوادث لکه څنګه چی راغلی دی په خپلو ذاتی اشکالو کی ئې تحلیلولای سو . په دغه منظور به زموږ یو پوه انډیوال اکثره ویله :-

« زما تر تاریخ حاضر جریان ډېر خوښ دی ځکه په حاضرو واقعاتو کی ، چی ارو مرو د خپل تاریخ واقعی نتائج دی عالم ؤ جاهل ، قوی ؤ ضعیف ، مدنی ؤ بدوی ، ناقص ؤ کامل او نر ؤ ښځه ډېر ښه سره معلوم دی » .

کټوره خبره

که په هومره پیسو چی خلک ئې په جنګ کی لګوی ، مځکه وپلورل شی ، ډېره ارزانه به وی . نسبت و هغی مځکی ته چی د جنګ او وینی تویولو په وسیله لاس ته راوستل کېږی . « ..... »

پېغله نجیبه [نژند]

پټن او ډېوه

هلته لیری د دښت په یو ګوټ کی د څو قبرونو پرسز باندی ځینی ونی راشنې شویدی . د شپې په تاریکه کی چی فضا له تیارې څخه بیمنا که شی ، د دغو درختو او قبرونو وخوانه د خلکو لږ ګذر کېږی او له ډار نه څوك نسی ور نژدې کېدای . لېکن ودغه هول انګېزه عالم ته چی شاوخوائې په ظلمت او چوپتیا احاطه شوی وی یو نا پېژندونکی شبح په نیمه شپه کی ورځی لمړی پر ټولو قبرونو طواف وکړی او بیا په کراری او احتیاط سره پر منځنی مزار باندی لګېدلی ډېوه کښېږدی او ورځنی لیری شی .. دلته پراخ دښت او ډېوه پاتېږی د شمع کمزوری وړانګې هری خواته خپرېږی ، او هسکېرلی پټن چی ټول عمر ئې سترګی د محبوب د لیدو لپاره کېږې نیولی وې ، په ډېر تلوار او نا آرامۍ سره د شوق په الوتلو پیل کوی .. راځی څو د مینی راز د ډېوې سره ووائی . مګر د دې ډېوې جمال او پلوشی دومره اغیزه باندی کوی چی د بېنوائی په حالت ځان شغلو ته غورځوی څو ئې وزرونه وسوځی او هستی ئې دیار د مظالمو په وجه برباد سی .


مرحوم رحمت الله بابا

د حمید پـــــــــر غزل

د مرحوم

(رحمت الله بابا مخمس)

د تن خـاوره مې د غـم لـه رطوبته
ازلی ده خیشته سـوې له قسمته

بلة چـارة نـه لـرم بېـله محنـته
مجت کړم د خوبانو اوښ په نته

د هر چا د ظلم بار وړم بې منته

په خاطر بانـدی مې اوری کانی ، بوتی
تل تندی د اغیار وینم غوتی غوتی

دراحت په خوب مې نه کړې سترګی پټی
دښکاری په څېر جار وزم ترهر بوتی

درسته ورځ د یوه ښکار د محبته

که ئې مالګی وی پرتی په جراحت کی
لا به ښه تر بې ننګی وی په راحت کی

تل لـره دا تقاضـا پـه حرکت کی
په سرو وینو کی لت پت ښه ئې په پت کی

ته د سرو زرو پر تخت باندی بې پته

تل ساته زړونه د ژبی له بـد نېښه
ترخه زهر د حلوا په څېر مه زبېښه

لکه سور لعل په سپېرو خاورو کې برېښه
د کمال کعبه به هله شي درېښه
که دی لار د کمینۍ نه کړه غلطه
غواړه یار له ماورا په بې نیازی کې
په هیڅ وخت نه مونده کېږی په بازی کې
که هوا لرې په ښه چاره سازی کې
طلبه سرفرازی په سرکوزی کې
راکوزېږی پرهډو کې همای ښکته
چې په لوړه تقاضا پسې ئې تله دی
هغه خلک پوهېدلی نه دی څه دی ؟
خودبینی تورو تیارو نیولی نه دی
مرتب و هر مطلب ته پېژانده دی
بیا به لاس لره رانه شی فراغته
شاکرد اوسه د رب شان معظم ته
د اکرام لقب ئې ورکړو آدم ته
فرشتې ئې په سجده کړی محترم ته
ښه دزړه په سترګو ځیرشه وعالم ته
کوم صاحب دی صاحب شوی بې خدمته
هغه چا چه کړی څرګندی خپلی رائی
د عنوان په معنی خپل ځانونه ستائی
بېهوده عالم پر خپلو لارو بیائی
چې ناصح به ترک دعشق درته څه وائی
و دوزخ ته دی راباسی له جنته
چې هرګام اخلی ایږدې ئې په خطر کی
د ژوندون لمر دی سو ژړ په مازدیګر کی
ته لا اړ ئې «رحمت الله» په خپل دفتر کی
د اشنای دمجت په لوی سفر کی
د «حمید» دنندی پېټی سوی شورته

اجمل خټک د پښتونستان نومیالی شاعر په خپل دې شعر کې د پښتنو د بدبختۍ حالات ډېرښه تصویر کړی دی .

(زه هم ځلمی یم)

زه هم شاعر یم د چا دنګی سپینی غاړی سره
د لونګین په ټال خپل فکر زنګولی شمه
زه هم فنکار یم د چا تورو خمارو سترګو کښی
د پېغلتوب شراب بې جام و کاسو څښلی شمه

* * * *

زه هم د تورو ګورو زلفو عنبری سورو کښی
د نوی حسن په باغچه ځان ور ولی شمه
زه هم د ګرمو، پستو شونډو انګوری پیالو کښی
ځان ته د عشق آب حیات تیار ولی شمه

* * * *

زه هم ځلمی یم لېونی زړه می مستی غواړی
په مرمرینو لېچو خوب د چا سکنی غواړی

زه هم د غوښی زړه لرم سینه کښی کانی نه دی
رانه ښایست غواړی، مستی غواړی، خندل غواړی
د زلفو څوکو سره لوبی غواړی، مینه غواړی
ملال بانه، خونړی سترګی، مړه کتل غواړی

* * * *

چی د مکز خندا د پېغلو اننګو، ووینی
زما زړه هم ورته بې صبره پسخېدل شروع کړی
چی تر بانه لاندی کاږه د خیال کاته ووینی
زما کوګل کښی هم څه پټ پټ تخنېدل شروع کړی

زما زړه هم د مینې ډک دی مینتوب غواړی
ژوندون په خوا کښې د بې کچه بېغلتوب غواړی

خو

ولی آشنا دا هر څه خیال وګڼه خوب وګڼه
خدا پېژو که دې ته یو لحظه اوزګار بدلی شمه

داخو مستی ده، خوشحالی ده او خندا هوس دی
والله که زه خو هغه ساه هم اخستلی شمه

* * * *

زما د خیال په ځلمیتوب ګوڼی لګیادی خوری ئې
قسم که زه خو د نیمګړی ژوند په خوند پوه شومه

د حیات وینه مې څربی څربی ژوری او څښی
قرآن که زه خو د دې زیست روزګار په بند پوه شومه

* * * *

حسن به څه کړم چې زړګی په خوار و خوار لرمه
مینه به څه کړم چې ژوند په اوږو بار لرمه

چې مې د مور د سر پوړنی لا تار تار پروت وی
زه به د مستولو پټو خوبونه څه ووینم

چې مې د خور سر سرتور دی د ظالم دلاسه
زه به د تورو پلوکو «۱» خوبونه څه ووینم

* * * *

چې رانه چارچاپېره ټول ماحول سلګی سلګی وی
وایه د سروشونډو خندا باندی به څه پوه شمه

چې خپل کرلی فضل ټول رانه ازغی ازغی کړی
د بل د ګلو په موسکا باندی به څه پوه شمه

* * * *

چې مې نیاز بین بجی د لوږی مری زه ګورم ورته
ملګرو! څنګه به د مینې خرمستۍ وکړمه

«۱» زلفی.

ښاغلی ګل پاچا «الفت»

ستا د پاره

ای زما د زړګی سر د سترګو توره
د بهار وږمه تاویږی ستا له کوره

دا جهان بهار ښایسته کړ ستا د پاره
نه له خپل قدره خبر نه ئې هر ګوره

که اسمان او که دا مځکه که هواده
که دلمر او د سپوږمۍ سپینه رڼا ده

دغه واړه خدای پیدا کړ ستا د پاره
دنیا ټوله ستا د دوه سترګو بها ده

ګلو ځان ښایسته کړی نن زمان دی
ستا د پاره پیدا شوی دا جهان دی

هر شی غواړی چی مقبول شی ستا حضور کی
دلاله په زړه کی هم دغه ارمان دی

چی زما ګټه بل څټی او ما دلوږی وژنی
دا سی قصاب نظام کښی څنګه خوشالی و کړمه

* * * *

چی سړیتوب په کښی تللی شی دزرو په نرخ
ملګرو ! طمع ترې دلوړ انسانیت و کړمه ؟

چی په کښی حسن و محبت هم به لیلام خرڅیږی
سړو ! هغه بازار کښی عشق و کړم الفت و کړمه ؟

* * * *

تا سو خو عشق وائی دژونده هم بیزار ناست یم
هر څه چی کیږی یوې چیغی ته تیار ناست یم

[د غیرت چیغه]

ذکر د زرغون خان جنت مکان چې په قوم نورزی ؤ روایت کا:-
دوست محمد کاکړ چې په خپل کتاب «غرغښت نامه» کې کښلی دی
چې: زرغون خان د نوزاد نورزی ؤ او په کال ۸۹۱ سنه هجری مبارك ولاړ
هرات ته، او له هغه ځائی په عراق او خراسان سورو کا او د اوزبکو په
جنګو کې زرغون ښکاره کړه ښه مړانه او غیرت، چې شیبانی خان سیستان
ته ورسېد نو زرغون خان له ده سره جنګونه وکړل چې د اوزبکو لښکر
ډېر ومړل. دوست محمد کاکړ هسې نقل کا: چې په سنه ۹۱۲ هجری زه
ولاړم هرات ته، په کجران کې مې د ملا ایوب تیمنی څخه د زرغون خان د
غزلو او شعرو، دیوان ولید، چې اوراق ئې ؤ په شمېر درې سوه. هم د
دوست محمد کاکړ رایت دی چې: زرغون ډېر ضعیف سو، او په سنه ۹۲۱
هجری په دیراوت کې وفات سو، دوست محمد کاکړ پخپله «غرغښت نامه»
کې دا لاندی دوه یځ چې مثنوی د ساقی نامې دی، دده له دیوانه دا اشعارو
زا نقل کوی.

مثنوی ساقی نامه

ساقی پا څه پیاله را کړه — مرور یار مې پخلا کړه
او به توئی په لنبو کړه — اورمی مړ په دې او بو کړه
پسرلی شو غنچه ګل کا — زلفی تاوی د سنبل کا
بلبلان شورو فغان کا — کړیدن په ګلستان کا
زاهد وزی صومعې څخه — شراب پیری میخانې څخه
هر سړی په میو مست دی — دې بهار کې ګلپرست دی
په راغو کې سرې لنبې دی — د غټولو ننداري دی
جهان ټول سور او زرغون شو — وچ راغه ښکلی ګلګون شو
سړی ټول شورو شغب کا — یارانې کاندی طلب کا
بهار وخت د یارانې دی — ښه موسم د پیمانې دی
نو ساقی پاڅه بهار دی — نن ژوندون سبا رفتار دی

دنیا پاته موږ به ځونه
تورو خاورو کی به یونه

پیمانه ډکه له می کړه
بزم تود په پیا پی کړه

چی یودم سمه آزاد
ناښاد زړه می سینه ښاد

ساقی پاڅه وخت د ګل دی
په جوشش کی خم دمل دی

وخت دمیو د وېشو دی
د پیالو د ډکېدو دی

هغه څوك اوس د پېغور دی
چی ئې جام تش ونسکور دی

مستان ګرزی په باغو کی
مستی کاندی په راغو کی

لاس په لاس دی یارانی کا
یو په بل نازو نخرې کا

مجنون وصل له لیلا دی
د جمال په تماشا دی

نه غمجن سته نه بېلتون سته
نه مهجور نه ځګرخون سته

ترتا وګرزمه راسه
ساقی یو ګړی پخلاسه

ماته جام دربل ولوررا
چی یو تش سی ډك ئې نور را

اور می بل دزړه په کور کړه
له هرچا هرڅه ئې تور کړه

چی بل څه نه وی الفت وی
تو له مهر و محبت وی

تول اخلاص وی او صفا وی
تیاره ورکه سی رڼا وی

له زړه کم غش او دغل سی
جهان تو له ګل او مل سی

ساقی ستا مهر مطلوب دی
نو بهار ځکه مرغوب دی

که ستا لور، پیرزو نه وی
نو بهار به په څه ښه وی؟

خوند به نه کارنګ د ګلو
بې مستیو بې له ملو

نه به بزم په شور تود سی
نه نغمې نه به سرود سی

جام به تش د آرزو سی
ورك به مهر او پیرزو سی

نو ساقی پاڅه بهار دی
بزم تا له امیدوار دی

یاران ناست ستر ګی څلور دی
ستا د جام په امید نور دی

ته هم راسه عنایت کړه
بزم تود د محبت کړه

له سرو ملو څخه ډك جام کړه
د یارانو ئې انعام کړه

چی سوړ بزم په می تود سی
د رندانو غوږو سرود سی

د جهان ویرو غم هېر کا
یودم ښه په عشرت تېر کا

چی په مخ کی مو بېلتون دی
له جهانه سبا یون دی

«له پټی خزانې څخه»

ښاغلی عبدالحی
«حبیبی»

کره کتنه

شال او بولان

د کندهار پښتانه یوه قصه لری چی د شال نوم د احمدشاه بابا ابدالی په زمانه کی ایښود شوی دی. مگر دا خبره تاریخی سند نلری بلکه شال له پخوا زرو کالو څخه د دغی او سنۍ کوټی نوم وو او د پښین وادی تر اسلام دمخه هم په تاریخ کی شهرت درلود او زما په خیال خو د بولان نوم هم ډیر پخوانی دی.

د اسلامی دورې د جغرافیانو دغه مځکه چی له مستنگ تر سیوڼ پرته ده د «والشتان یا والسشستان» په نامه یاده کړیده [وگوری د یعقوبی کتاب البلدان ۲۸۱ مخ او د البیرونی قانون مسعودی او حدود العالم ٦٤ مخ، ابو عبدالله محمد بن احمد مقدسی پخپل کتاب احسن التقاسیم کی ٤٩ مخ، د والسشتان ښارونه ایشین (پښین) اسبیدجه، مستنگ، شال، سکیره، سیوه (سبی) بولی او بیا په ۲۹۷ مخ کی همدغه نومونه مکرر د لوړی. دغه مؤرخ په ۲۷۵ کال کی خپل کتاب تالیف کړیدی] نو داسی ځینی معلومیږی چی پښین، مستنگ، شال، سیوی او اسفجر زر کاله پخوا هم په دغو نومو موجود وه، او جغرافیه والو پېژندله دا عربی مورخ یو گرزندوی سړی وو، او دهغه وخت اکثر اسلامی ملکونه ده لیدلی وو، نو ځکه دده خبره سند ده.

هتورام پخپل کتاب تاریخ بلوچستان طبع لاهور ۱۹۰۷ع ٦۲۲ مخ کی داسی لیکی:-

چی دغه علاقه احمدشاه درانی د بلوڅو میر نصیرخان مور ته د پوړنی (شال) په ډول خلعت ور کړې وه، مگر دا خبره غلطه ده ولی چی زر کاله دمخه همدغه شال موجود وو، او عین د احمدشاه ابدالی په زمانه کی همدغه ځای شال بلل کېدی چی د کاسی قوم کلاوی دلته وې پدغه کتاب کی د میر نصیرخان یو فرمان دار باب یوسف خان او دولت خان او بادین خان کاسی ملکانو پنامه سته چی په ۱۱۵۲ه کال د محرمی ۱۱ لیکل سوی دی. بل د احمدشاه ابدالی فرمان دی چی تاریخ ئې د ۱۱۵٤ه کال د صفر ۱۵ «؟» دی ٦۲٤ مخ، مگر دا دواړی سنې غلطی ښکاری ځکه چی د نصیرخان تخت نشینی ۱۱٦٤ه او د احمدشاه جلوس ۱۱٦۰ه کال د شوال میاشت دی او ممکنه نه ده چی لس، دوولس کاله تر پاچهی دمخه د دوی فرمانونه لیکل شوی وی پدغو دواړو فرمانو کی دغه مځکه د شال په نامه یاده سوېده نو ځکه

زه وایم چې دا نوم پدغو وختو کې هم مشهورو، او نوی نه دی او کندهاریان تر اوسه هم د کوټې مېوه والا شالکوټیان بولي. کوټ د پښتو قدیمه کلمه او معنی ئې «کلا» ده نو شال کوټ یعنی د شال کلا.

اما د بولان نوم هم قدیم ښکاري که څه هم د قدیمي جغرافیا په کتابو کې ما دا نوم ندی لیدلی مګر داسې ښکاري چې د سلطان محمود او مسعود تر زمانې د مخه ۵۰۰ هـ همدا نوم ؤ یعنی تر اوس زر کاله مخکې هم بولان مشهور ؤ. د غزنوي دربار لوی مورخ ابوالفضل محمد بیهقي لیکي: چې د بست د ښار لوی قاضي ابوالحسن بولاني او بوبکر د ده زوی په علم او تقوی ډېر مشهور ؤ، او سلطان مسعود دغو بولانیانو ته په درنه سترګه کتل. وائي چې سلطان محمود د هندوستان بتان مات کړل او سره زر ئې په کڅوړو کې راوړل په هره کڅوړه کې زر، زر مثقاله سره زر ؤ، یو وخت سلطان مسعود خبر شو چې د بست «د هلمند د غاړي» قاضي بولاني او د ده زوی بوبکر ډېر مفلسان دی او له چا څخه هیڅ نه اخلي نو سلطان وویل: دغه د زرو کڅوړي چې د غنیمت حلال مال دي یوه قاضي بولاني او بله د ده زوی ته ورکې مګر قاضي بولاني وویل: دا زر چې سلطان محمود له بتخانو څخه په توره ګټلي دي او راوړي ئې دي، او ما ته نه ده معلومه چې هغه غزا دي پر سنت نبوي «ص» برابره وي که نه؟ نو دا زر څنګه واخلم؟ سلطان ورته وویل: که ئې نه اخلې، خپلو شاګردانو او نورو بېوزلانو ته ئې ورکه! بولاني وویل: دا زر د بل چا دي او بل څوك به ئې اخلي تر دې منځ زه ولي ځان په ګډ کړم چې په قیامت به ئې جواب وایم بیا نو سلطان هغه زر د بولاني قاضي و زوی بوبکر ته ورکړه خو هغه وویل: زه هم د دې سړي زوی یم، له ده څخه مې علم زده کړیدی. دا زر نه اخلم خپله یوه ګوله وچه ډوډۍ مې بس ده».

سلطان د بولانیانو له دې زهد او تقوا څخه ډېر خوښ شو او وې ویل: «خدای دی تل دا بولان له بدو سترګو وساتي» د تاریخ بیهقي ۶۲۳ مخ د تهران چاپ.

له دغو تاریخي سندو څخه ښکاري چې شال او بولان دواړه پخواني نومونه دي او دا ځایونه زر کاله د مخه هم په دغو نومو یادېده او بولانیان د سلطان محمود د ژمي په پایتخت بست کې د شرع قاضیان ؤ، او د دوی علم او تقوا مشهوره وه چې معاصر مورخ بیهقي ئې اوږه قصه له خپلې مشاهدې څخه لیکلې ده.

د خپل مطلب ښکاره کول په ډېر لنډ ډول

ویکټور هوګو د خپل مشهوره کتاب «بېنوایان» و خپرونکي ته یو کاغذ ور واستاوه چې په هغه کې یوازې دا سوالیه علامه [؟] ورته لیکل سوی وه هغه ئې هم جواب په دغسې لنډ ډول ورکې چې هغه دا یوه د تعجب علامه [!] وه او ویکټور هوګو ته ئې ور واستول.

نو ویلای سو چې تر دې به لنډ سوال و جواب او د مطالبو ادا بل چا نه وي لیکلي.

مشاهیر

لیکونکی: دیل کاررنګی
مترجم: ښاغلی [غروال]

کریستف کلمب
د امریکا کاشف

هر کال د اکتوبر په ۱۲ امریکایان د یوې مهمې تاریخي حادثې جشن نیسي دا حادثه د کریستف کلمب په واسطه د امریکا کشف دی اما د توجه وړ موضوع داده چې کریستف کلمب د اکتوبر پر ۱۲ امریکا نه ده کشف کړی بلکه د اکتوبر په ۲۳ دا لوی کشف عملي سوی دی هغه تقویم چې نن ئې موږ استعمالوو د پاپ (ګریګورس) تقویم دی خو حال دا دی چې کریستف کلمب د هغه څخه هیڅ خبر نه ؤ، ځکه دا تقویم د ده ترمرګ سل کاله وروسته راووتی هغه خلک چې په امریکا کې اوسېدل د ۱۷۵۲ کال څخه ئې د دې تقویم په استعمال شروع وکړه او کله چې ئې بدې کار شروع وکړه ناڅاپه ئې تقویم یوولس ورځې مخ ته ولاړی نو بنا پر دې کلمب د اکتوبر په ۱۲ امریکا نه ده کشف کړی بلکه د هغې میاشتې په ۲۳ د امریکا پر کشف موفق سوی دی کریستف کلمب په ځوانۍ کې د یوې ډلې غلو کښتۍ ته داخل شو په هغه وخت کې دریابي غلا بده نه ایسېدله او هرې اصیلې کورنۍ خپل هلوکان د روزنې له پاره د غلو کښتیو ته سپارل په دې کښتیو کې ژوند په ځوانانو کې پر خپل نفس د اعتماد حس تقویه کاوه.

کریستف کلمب په کوچنیوالی د تحصیل په وخت کې د «فیثاغورث» یو کتاب لوستی ؤ او دې نتیجې ته رسېدلی ؤ چې مځکه ګردۍ ده او تر دې وروسته په دې باره کې په فکر کې لوېدلی ؤ. او همېشه به ئې دا فکر کاوه چې که مځکه ګردۍ وی نو باید هندوستان ته د بلې لارې هم سړی ورسیږی او دا خیال ئې کاوه چې که پر دې کار موفق سی ښائی چې خوراډېر ثروت به په لاس راوړی. د ده استادانو دا احمقانه فکر باله او باندې خندل ئې. هو! دې احمق ځوان غوښتل چې هندوستان ته چې په ختیځ کې پروت دی د لوېدیځ له خوا لار برابره کړی.

کلمب په داسې حال کې چې مخارج به ئې بل چا پر اوږه واخیستل پـــوره ۱۷ کاله کوښښ وکړ او د خورا ډېرو مانو او بدبختیو سره مخامخ سو آخر په مایوسۍ اخته سو او ددې له پاره تیار سو چې د خپل دې فکر څخه صرف نظر وکړي او وروسته دا فکر لا هم ورولاړېدی چې کلیسا ته ولاړ سي او خپل باقیمانده عمر هلته تېر کړي .

کلمب په هغه وخت کې پنځوس کلو ته لا نه ؤ رسېدلی اما دومره زهیر سوی ؤ چې زوړ ایسېدی او د سره وېښتان ئې لکه سپینه واوره بریښېدل .

په پای کې پاپ د هسپانیا ملکه ایزابل د کلمب سره مرستې ته تشویق کړه . هغې هم ۶۵ ډالره کلمب ته ور ولېږل او خپل حضور ته ئې وروغوښت کلمب چې خورا مفلسه ؤ په هغو پیسو ئې یوه جوړه کالی او یو آس رانیوی او ددې له پاره چې د لوږی مړ نسی د هغې لاری په منځ کې چې تر ملکې ئې ځان را رساوه فقر ئې کاوه .

ملکې هغه کښتۍ چې کلمب احتیاج ورته درلود ور برابری کړی اما د کښتۍ له پاره د کاریګرو پیدا کول سخت کار ؤ ځکه تو له خلګ ددې سفر څخه بېرېدل ، نو ځکه کلمب پدې وخت کې یوه ښه چاره وکړه ، هغه دا چې د بندیخانې څخه ئې بندیان را وایسته او هغو ته ئې خورا ډېری وعدې ور کړی او ځینې ئې په زوره په کښتۍ کې وغورځول او خپل نور کارونه ئې تو له خلاص کړه . د ۱۴۹۲ کال د جمعې دورځې سهار ؤ چې د ۳ کښتیو سره چې ۸۸ تنه پکښې سپاره وه سفر ته ئې شروع وکړه هغه خلګ چې کلمب ونوی قارې ته د ځان سره رهی کړی وه د بې شمېره فلاکتو سره مخامخ سوه او ددې لومړۍ ډلې خلګ تو له بومیانو مړه کړه ، د دوهمې ډلې مشر د کلمب سره داسې بدورده سو چې د هیڅ ډول تاوان څخه ئې د کلمب په نسبت ډډه نه کوله څو بالاخره ئې په ځنځر وتړی او هسپانیا ته ئې راولېږی که څه هم کلمب وهسپانیا ته درسېدلو سره سم د بندۀ ایله سو امادی حوادثو په روحی لحاظ دی ډېر خراب کړ کلمب په شپېته کلنۍ کې مړ سو او هیڅوک ئې د مرګه خبر نسوه او دده د جنازې مراسم هم هیچا پر ځای نکړه کلمب د کیوبا په مرکز هاوانا کې ښخ دی .

«مترجم»

کلمب په یوه داسې حجره کې د دنیا څخه سترګې پټې کړې چې هیڅ فرش پکښې هوار نه ؤ د حجرې پر شاوخوا او دده پر لاس و پښو پنډ ځنځیران را پېچل شوی وه .

کریستف کلمب د نړۍ په تاریخ کې د یوې لوئې حادثې قهرمان ؤ امادې قهرمانۍ ده ته هیڅ ګټه ونه کړه ، ځکه دی په ډېر ثروت پسې رهی ؤ حال دا چې په فقر او لوږه کې مړ سو . و کلمب ته وعده ور کول شوی وه چې د ریاب سالار او د هندوستان نائب السلطنه به ئې کړی . اما دا عنوانونه هیڅ ورنه کول سوه حتی هغه قاره چې ده کشف کړی وه د ده نوم هم پر یاد نسو او دده کشف سوی قاره د یو بل نقشه کښونکی چې «آمریکووسپوس» نومیدی په نامه یاده سوه او

«په ۳۰ مخ کې»

یوه ادبي ضیاع

مرحوم محمد عثمان «پښتون»

وفات سو

څو ورځې د مخه محمد عثمان پښتون د کندهار د پښتو ادبي انجمن بخواني رئیس او د هغه وخت د پښتو مجلې چلونکی چې دلته ئې په «منشي محمد عثمان» سره شهرت درلود وفات سو، مرحوم

محمد عثمان پښتون د پښتو ژبې یومین او ددې ځای د پخو لیکوالو څخه ؤ، زموږ په ادبي نړۍ کې د دوی مرګ یوه د خواشینۍ وړ ضایعه ده. نوموړی د خپلې ژبې د اعتلا او ترویج په لار کې د یادولو وړ خدمتونه کړي وه لکه څرنګه چې به ئې هر وخت دعوه کول د «پښتو» مجلې د خپرېدو په جریان کې د پښتو ځینو نامعلوموا ثارو غونډول او د ځینو لیکوالو معرفي، د کندهار ادبي انجمن د دنیا د نامتو ادبي او علمي انجمنو او اکاډیمیو سره معرفي کول او د اداري لیکنو په پښتو اړول د پښتو مشاعره بابول د پښتو د صرف و نحوي او لغاتو رواج او اساس ایښوول ئې د خپلو افتخاراتو څخه بلل.

مرحوم «پښتون» د انګریزي اردو، پنجابي، ګجراتي او هندي ژبې څخه استفاده کولای سوای چې ځینې ترجمې به ئې هم ځنې کولې په پارسي کې هم د ښه قلم خاوند ؤ. نوموړی پرته لدې چې ځینې اثار ئې ترجمه کړي دي خپل څو تالیفات هم لري، په لیکنو کې د ساده او بې قیده سبک پرخوا ؤ خپلې نوشتې ئې د وحشي او نادر لغاتو څخه لیري ساتله، نور نو دده پېژند ګلوي او د ژوند څو نوري خبري پدې ډول دي:

مرحوم محمد عثمان پښتون په ۱۲۶۵ش کال د کندهار د «معروف» په علاقه کې د خپل نیکه په کلا کې زو کړي ؤ دده د تحصیل زیاته برخه د اوسني افغانستان څخه د باندې سوي وه داسې چې د عمر په [۷] کال ئې پلار د پښتونستان و چمن ته فرار سوي او دې پر [۸] کال د چمن وښونځي ته اچول سوي ؤ په پنځه کاله ئې لومړنی تعلیمات پای ته رسولي او بریالي ځنې وتلي ؤ همدا وخت ؤ چې پلار ئې وفات سوي او دې د کندهار

ارغسان ته راوګرزېدی لږ مده وروسته بیرته چمن ته ولاړ او د هغه ځایه [کوټی] ته، ورپسې بمبئی ته رهی سو او هلته ئې لیلیه ښونځی وویل دانګلیسی او ځینو نورو ژبو د زده کړی وخت ئې هم دغه ؤ دلته څه وخت پاته سو څو چی د خپل هیواد په نیت ئې هغه ځایونه ترك کړه او کندهار ته راغی لومړی پلا د [طلوع افغان] په اداره کی په ترجمانی وټاکل سو او دا کار ئې تر څلورو میاشتو پوری کړیدی ورپسې په سپین بولدك کی سیاسی مامور مقرر سو کله چی یو نیم کال وروسته دا څانګه لغوه سوه نوموړی د کندهار په مرکز کی د پاسپورټ او ضبط احوالات په ماموریت وټاکل سو دلته هم تر یو نیم کال پوری ؤ څو چی ښاروالی ته ولاړ او هلته د تحریراتو سرکاتب ورپسې د تحریراتو مامور مقرر سو، چی پدې تـ څ کی د ښاروالی د ریاست چاری هم ورسپارل سوی دی څو چی سقوی اړؤ دوړ پېښ سو او دی ئې د کاره ایسته کړ چی سقوی اړؤ دوړ تمام سو مهردل حسان بیرته ښاروالی ته راؤست او څه مده ئې دا وظیفه اجرا کړه لدې وروسته ئې و سوداګری ته پیل وکړ چی تر ۱۳۱۱ ش کال پوری ئې سوداګری کول پدې کال په کندهار کی د پښتو ادبی انجمن تاسیس سو او دې ئې په ریاست وټاکل سو چی د «پښتو» مجله هم دده په مشرتوب خپرېدله تر ۱۳۱۶ ش کال پوری چی دا انجمن په کندهار کی ؤ. مرحوم محمد عثمان پښتون ئې رئیس ؤ څو چی دا انجمن د کابل په ادبی انجمن کی منحل سو نوموړی د پوهنی د وزارت د تعلیم او تربیې په ریاست کی په غړیتوب وټاکل سو، دې کار ئې تر څه وخته دوام وکړ بیا بېکاره سو. خو اوس ئې د سپین ږیرتوب عمر پر کور تېراوه او په عین حال کی د استراحت ئې ډېری مقالې او مضامین و جرائدو ته ورلېږل.

څو دادی چی څو ورځی دمخه د جمعې په ورځ د حوت پر ۲۶ نېټه د بوې ناروغی په اثر د عمر پر ۷۵ کال وفات وه موږ بخیل روڼ د لوی خدای [ج] څخه بخښنه ورته غواړو او دښو خدمتونو ئې ستاینه کوو.

«اداره»

کریستف کلمب

یواځی د ژوند بې شمېره خواری ورورسېدی تر ټولو او بدبختی دده لپاره داوه چی د نوموړی کشف څخه ئې معنوی استفاده هم ونکړه ځکه ده هندوستان ته لار خلاصوله او لویه اشتباه ئې وکړه چی د نوی دنیا پر سور پوستانو ئې د هندیانو ګمان وکړ. د امریکا کاشف اوس خلګ کریستف کلمب بولی حال دا چی تر ده زر کاله دمخه یو بودائی ملا چی اصلاً چینائی ؤ او [هوشین] نومیدی ۵۰۰ کاله تر کلمب دمخه یو بل سړی لیف اریکسن دوباره د امریکا پر کشف موفق سو او هغه کورونه چی ده په [ماساچوست] کی د چارلز د سیند پر غاړه جوړ کړی وه تاریخ لیکونکو ښکاره کړیدی دا کورونه د [هاروارد] د پوهنتون سره نژدې جوړ شوی وه.

کریستف کلمب به همیشه د تاریخ په پاڼو کی د لوی قهرمان په نامه پاته سی هغه وخت چی کرده خلګ لدې سفره تښتېدل یواځی دده داوسپنی اراده وه چی دا کار ئې عملی کړ او هر کله چی به د سفر په دوران کی خپلو ملګرو له خوا به قتل تهدید کېدی دده یواځی ږغ به داؤ «مخ ته ځی! مخ ته ځی!»

« د پشتی د دوهم مخپانه »

کښوی هلته چی د حسن او ښایست په موجونو کی زخمی زړونه پورته کښته کېږی، هلته چی د ناز او کرشمې طوفانونه د تقوی بلند بنیاده ماڼۍ ګانی نړوی.

هلته چی د مخمورو سترګو دل فریبانه نګاه وی بې دردان جمال پرسته کوی.

په هغه رندانه ټولنه کی چی د موسیقی دل انګېزه نغمې د زړونو غوټۍ غوړوی، په هغه محفل کی چی د تاک اور د میخورۍ پیغامونه اوروی هلته په ما پسې ځان مه لالهانده کوه زه نه یم.

* * * *

په آسمان خراشو کی ځای نلرم، په لوړو او ښایستو بنګلو کی هستوګنه خوند نه راکوی د هسک لایتناهی فضا زما د فکر د مرغه جولانګاه نه شی کېدای، په شفق او طلوع کی نه ځائېږم په شنو کښتونو او سمسورو باغونو کی زما ځالۍ نشته د ګلونو په وږمو او د مستو بېغلو په تبسم کی ځای نلرم هلته مه راځه.

* * * *

د خزان په ژېړو منظرو کی چی د عمر وروستنۍ لحظې راښئی او د ژوندانه د اوښتلو او بې ثباتی راز تفسیروی. هلته په ځیر ځیر مه ګوره ما نشې موندلای د شاعرانو د بلند پروازۍ او تش تخیل زه نه یم ملګری، د فلاسفه ؤ په بې عمله کرښو کی زه راګیر شوی نه یم د ظالمانو په تاریکو دماغونو او سختو زړو کی زما ګذر نشته.

د خود ساخته معبودانو په محضر کی ناسته نه لرم ځان مه سرګردانه کوه.

* * *

آخ مرموز جهانه ته چیری ئې؟
زه دلته خورا نژې ستا تر سترګو لاندی نیهام یم...
چیری؟
په کوم ځای کی؟؟ په کوم محفل کی؟؟
د خوارانو په سینو کی زما کور او د مظلومانو په جونګړو کی زما ټاټوبی دی.
که ته غواړې په رشتیا سره ما ووینې نو د استغنا له آسمانه د خوارانو و کوګل او د مظلومانو و بورجل ته راکښته شه او که نه؛ ته اې پرېشانه ارواح په ما پسې مځکی او آسمانونه بې ځایه مه پلټه ما نشې موندلای.

« ا.م کرزی »

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR A.M-KARZI
(APRIL) 1962
GOVERNMENTAL PRESS